خپل نظر وړاندي کوي په دې مهال افلاطون هم شتون لري او دغه ورسې د سېمپوزيم په نوم ليکي.

(4)Divne Eros مسلمانانو صوفيانو په عشق حقيقي سره ژباړلی دی

(5) Vulgur Eros چې ژباړه يې په عشق مجازي يا عشق شهواني سره کېږي.

(6)په دې مځکه کښې تر اوسه لا په دې مفکوره خبرې دي، چې د مسلمانانو مشهور فلسفيان، فلسفيان وو هم که نۀ کلاميان وو. د مسلمانانو علم الکلام اصلا د فلسفې په رڼا کښې د دين څېړنه وه، ځکه چې د فلسفې دفطرت لومړنی شرط له لومړنۍ مفروضې (pre-supposition) څخه خلاصون ؤ.

# د ناول"طالبه خداى که به ملا شې" تحليلي څېړنه
## (د تحليل نفسي په رڼا کښې)

# A Study of The Novel "Taliba Khudi Ka Ba Mullah Shey": in the light of Psycholanalysis

Sharif Khan*
Abdul Rehman Kakar†
(Correspondin Author)

**Abstract**:

* M.Phil Scholar, Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta
† Lecturer Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta

*Psychoanalysis is one of the contemporary approaches in Psychology whereas psychologically retarded patients are encouraged to freely speak of their dreams aiming at to scientifically transform or shift their symptoms of ailment from unconsciousness part of mind to conscious mind for therapeutic reasons through conversation.*

*So as the Psychoanalytic criticism is a method in literature wherein critics interpret literary stuff through this approach attributing towards psych. As par the psychoanalytic criticism is concerned, the interpreters mostly view the characters of any literary object under the study of human development in Human Development Theory or Psychosexual Theory of Development. Whatever, actually the writers unconsciously embedded in characters are of their early past experiences of which they are significantly unaware of respectively.*

*The researchers, here to some extent, have made candid efforts to construe the characters of aforementioned Novel in Psychological perspective, and have explored whether what the characters perform or make to execute that of the writer's early past slaughtered desires. The Talib released unconsciously what he was fixated at in his early stages of development including Id, Ego, and Superego. The way he walked upon was not his choice but was made to follow mainly by malfunctioning of the early stages.*

**Keywords**: Pashto Novel, Psychoanalysis, Pashto literature, Pashto criticism

## تیوریټکل فریمورک

ادب د ژوند تنقید دی او ژوند یو متحرک څیز دی ځکه خو ژوند هر کله پر یو ارتقایي لاره یون کړی دی او لګیا دی کوي يې. او ورسره ادب هم د کړنو لارو او تاتمولونه په ارتقايي سفر کښې تل خپلي اسپې زين ساتلي دي چې د ژوند سره اوږه په اوږه ملګرتیا

وکړي. ځکه خو ادب پوهانو د ژوند د پرمختګ سره د ادب د معیار پېماني د پرمختللي نړۍ د نوو غوښتونو په رڼا کښې ترتیب کړي دي.اوپه دې زیار کښې دي چې په زړو پېمانو کښې جدت راولي او زړو موضوعاتو ته په نوي تناظر کښې وګوري. دا ځکه چې ځومره ژوند پرمختګ کړی دی ادب هم دومره وده کړې ده اوادب پوهان په دې زیار کښې دي چې نوي لارې ولټوي او خپله وظیفه په ښه توګه تر سره کړي.
ځکه خوپه دې نوو پېمانو کښې یوه پېمانه د تحلیل نفسي یا ارواح پوهنې ده ،چې د انساني ارواح یا نفسیاتوسره خپله وظیفه لري او د دې پرارزښت سکښته زور ورکوي چې ارواح په انساني ژوند کښې یومعتبر کردار لري او سره له دې چې انسان هرکار کوي نو په هغه کښې د ارواح یوه لویه برخه وي. د تحلیل نفسي یا ارواح پوهنې نظریه ادب تش په نفساني تله کښې تلي او پلټي یې او د یو تخلیق تر شا د ارواح راپارېدل یو علت بولي. دا یوه نوې سپېڅونه وه چې په ادبي ډګرکښې یو نوی په زړه پورې اوښتون راوست، ځکه یې ارزښت یو په دوه شو.
نو راځو ړومبی د دې نظریې و هغو اساسي غوښتونو ته، په دې چې مخ په وړاندې به بیادا زمونږ لارښونه کوي.دا نظریه د استریا یو فزیشن چې نوم یې سیګمنډ فرائیډ ؤ(۱۸۵۶-۱۹۳۹) وړاندي کړه. دی چې به کله د خپلو رنځورانو په درمل اخته و نو دې فکر به واخستي چې دا رنځوران ولي له ما سره بد یا وما ته زیان نه رارسوي ځکه چې دوی دماغي ستونځې هم لري. له ډیرو تجربو وروسته فرائیډ په دې پایله ورسېدلی چې دا ستونځې په اصل کښې په لاشعور کښې پرتې وي. سیګمنډ په دا خبره زوروركړی که چیري یو رنځوردماغي ستونځې ولري او هغه د ده و شعور ته د لاشعور ځخه راوړل شي نو به دی دا توان وبائیلې چې د دې نځور ژوند په کنټرول کښې راولي.
شیربانو لیکي:

"Sigmund Freud, 1856-1939, an Austrian Physician, was the founder of psychoanalytic school and if unconscious conflicts

could be brought into patient’s consciousness, they would lose their power to control the patient’s life.”1

ژباړه: سیګمنډ فرائیډ،۱۸۵۶-۱۹۳۹، یو استړین فزیشن، د تحلیل نفسي فکر بابا ادم و، او د وئیل یې که چیري د یو رنځور د لاشعور ستونځې د ده وه شعور ته راوړل شي، دی به خپل طاقت وبائیلي چې د رنځور ژوند په قابو کښې راولي.

سیګمنډ فرائیډ پردا خبره زور ورکړئ دی که د یو ماشوم په کوشنیوالي کښې روزنه په ښه توګه نه شي تر سره نو دښې روزنې نېشتوالی یا محرومي د دې ماشوم په راروان ژوند به ډیره لویه اغېزه اچوي او دا محرومي تردا چې د دي ماشوم خوی ( رویه)، کړه وړه ستوخ کړي او په هر ځای کښې به یې دا ماشوم په یوه نه یوه لاره اظهار کوي، خو په زیاتومثالو کښې دتشدد لاره خپلوي.ځکه چې دا محرومي یا کمي د دې ماشوم له شعورڅخه د لاشعور ډګر ته کډه کوي، هغه په دې چې د ناپوره شوو ارمانونو ځانګو په لاشعورکښې پرته ده اوهغه ټول خواهشات، هیلې او غوښتنې چې په ماشومتوب کښې سر وخوري د شعور څخه د لاشعور،کوم چې په بله معنی د ځوانیمرګو ارمانونو هدیره هم بلل کیږي، ته کوچ وکړي.

ډاکټر نصیب الله سیماب د لاشعور په هکله داسي لیکلي:

”لاشعور د ذهن هغه برخه ده چیری چي شعور نشته. لا د نفي په معنا کښې ده ،دا د هغو نااسوده خواهشاتو ځاله ده چې انسان د پابندي له کبله تس کړي دي او شا ته یې اچولي دي“ ۲

دا نا اسوده غوښتنې په غیرشعوري توګه بیا د ماشوم په راروان وخت کښې په یوه نه یوه لاره اظهار کوي.او د ارواح پوهني بس هم دغه وظیفه ده چې د دې ”بیااظهار“ لار

ولټوي د خويونو، رويو ،کړه وړه د ښه والي او بدوالي علتونه په ګوته کړي. او هغه پړاونه په نظر کښې ولري چې د يو انسان د ژوند په جوړلوکښې لوی لاس لري.
شيربانو په دې حقله د سيګمنډ فرائيډ نظر داسي وړاندې کوي:

"Freud believed that early past experiences of which a person is unaware significantly influence his current behavior"3

ژباړه:( فرائيډ دا يقين لري چې د يوانسان د تېرو وختونو تجربات، له کومو څخه چې يو سړی ناخبره وي،د هغه په ننۍ رويه يا خوی باندي اغېزه کوي.
خو ډاکټرسليم اختر د نامتو شاعر ګوېټې يوه مشهوره مقوله په دې حقله وړاندي کوي چې لاشعورڅومره ارزښت په ژوند کښې لري.
ژباره:انسان تل ترتله د شعور په حالت کي نه شي اوسېدلای. دی به خامخا خپل ځان و لاشعور ته حواله کوي ځکه چې هلته د ده بنياد دی؛4
د فرائيډ د نظريې اساسيت پر لاشعور باندې اډانه لري، دی وايي چې د شعور له دنيا وروسته يوه بله دنيا هم شته چې لاشعوريې بولي.خو دلته دا خبره هم په پام کښې نيول پکاردي چې فرائيډ د لاشعور د راپيدا کولو موجد نه دی. ترده له مخه دا توری په باقاعده توګه په لوېديزو هېوادونوکښې کارول کېدلی خو د فرائيډ کمال دا ؤ چې هغه په ړومبي ځل د لاشعورپلټنه په سائنسي بنيادونو باندي تر سره کړه او له دې لاري يې د لاشعور کردار د يو انسان په ژوند کښې و څېړلئ چې پايله يې دا شوه چې لاشعور يې په انساني ژوند کښې د يو ډېر لوی کردار لرونکي څيز په توګه معارفي کړی.
پېټربيري په دې هکله داسي ليکي:

"All Freud's work depends upon the notion of the unconscious, which is the part of the mind beyond consciousness which nevertheless has a strong influence upon our actions. Freud was not the discoverer of the unconscious. His uniqueness lies in his attributing to it such a decisive role in our lives." 5

ژباړه: «د فرائيډ ټول کار د لاشعور پرخبره ولاړدی کوم چې د شعور پرته د دماغ يو برخه ده، او دا زموږ پر عملياتوباندي ډيره لويه اغېزه لري، فرائيډ د لاشعورد راپيدا کولو موجد نه دی، هان د ده کمال د لاشعور په ګوته کول دي چې زموږ په ژوند کښې يوډيرمتبر کردار لري.

د فرائيډ شخصيت د پېژندګلوي او جوړښت دپاره د؛سائيکوسيکسول تيوري اف ډيويلفمينټ(Psycho Sexual Theory of Development) نظر وړاندې کړئ. دلته دا خبره ياد ساتل پکارده چې فرائيډ په ارواح پوهنه کښې هغه درې پړاوونه لکه شعور، تحت الشعور او لاشعور ډير ارزښتناکه وبلل چې يو ماشوم يې له سترګې روښولو سره سره مومي او ورو ورو مخ په وړاندې بيا وده کوي.دهغه درې پړاونه اورل، انيل او پېلک په پړاونو کښې زياتر وده مومي.

پېټربيري په دې حقله داسي ليکي:

"Freud suggested a three-part, rather than a two-part model of the psyche, dividing it into the ego, the super-ego, and the id. These three 'levels' of the personality roughly corresponding to respectively, the consciousness, the conscience, and the unconscious"

ژباړه:« فرائيډ د روح يو ماډل د دوه پرځای د درو برخو سره په ګوته کړ او هغه دي ايګو(زه)سپرايګو(اخلاقي زه) ايډي (دا). اود هغه درې پړاوونه بيا د شخصيت له شعوريا احساس، ضميراو لاشعور سره اړيکې لري.

اوس راځو د ماشوتوب پرهغو پړاوونو په لنډه توګه رڼا اچوو چې فرائيډ يې د يو انسان په ژوند کښې ډير د قدر وړ بولي او د راروان وخت استازې هم ورته وايي. ددې لنډه سپنوونه به مخ په وړاندې زموږ لار ښونه کوي.

په دې کښې ړومبۍ (ایډي) ده او دا د یوماشوم د ژوند ببخي اولنی پړاؤ دی چې هغه هرڅه غواړي نو هغه بیا ترلاس کول غواړي او که وږي شي نو چغې وهي. دا پړاؤ یواځې د خوښي تاتمولونه لري.او غواړي چې هغه ټولې ستونځې ببخي زر هوارې؛ کړي کومې چې د لوږي، نفسي خواهشات، برید یا جنګ او غیرمنطقي کارونو د نه پوره کېدلو په عمل کښې وده مومي. د دې موخه هم بس دغه ده چې څه غواړي هغه زر تر زره پیدا کړي. فرائیډ دا وایي که چیرې یو ماشوم په دې پړاؤ کښې له ستونځو سره مخامخ شي او هغه ستونځې زر نه شي هوارې نو دا بیا د دې ماشوم دپاره په راروان وخت کښې کړکېچن حالات پیدا کوي.

"Fixation at the oral stage might produce an adult who was usually interested in overtly oral activities----eating, talking, chewing gums, smoking and so on"7

ژباړه: په دې اورل (ماشومتوب) پړاؤ کښې له ستونځو سره مخ کېدل یو داسې ځوان جوړکړي چې هغه بیا په هغو کارو کښې زیاته خوښي ویني چې له خولې سره تړون لري لکه خوړل، ږغېدل، ژاولې ژول، سیګرېټ څکول او داسې نور.

لکه وړاندې چې ووئیل شو دا پړاو ډېرحساسه وي او په دې کښې ماشوم تر هر رنګه وېرو تر اثرلاندې وي. هغه نه غواړي چې له خپل مور او پلار څخه بېل شي ولې چې په دې ړومبي عمر کښې د هغه ماشوم یواځني ملګري هم دغه د خپل کور بنیادم وي او بیا په تېره مور او پلار وي.

کبیرستوری دبېلتون د خطرپه حقله داسې لیکي.

"د ګرانښت د ناسوبتیا خطر: په دې پړاؤ کښې ماشوم د مور څخه د یوې شېبې له پاره د بېلېدلو او د تل له پاره د بېلېدو توپیر کولی شي اودی هڅه کوي چې مور ته ګران وي.که مور د ماشوم سره په پوره اندزه سره مینه و نه ښایي نو ماشوم ته سوچ پیدا شي چې مور ته ګران نه دی نو بیا د ګرانښت د ناسوبتیا د خطر سره مخامخ کېږي."8

په دې پسې دوه اړخیزه احساس (اوډیپس احساس) یو ډېرارزښتاکه پړاؤ چې فرائیډ یې ډېر د قدر وړ بولي.دا د یو ماشوم د ژوند هغه پړاؤ دی چې په دې کښې جنسي خواهشات سر راپورته کوي او یو ماشوم که هغه نرینه وي نو خپله مینه په مور ماتوي او که ښځینه وي نو په پلار خپله مینه ماتوي.
په دې اړه کبیر ستوری لیکي:

"دوه اړخیزه احساس د مور د سینې د خوړو شیدو څخه سرچینه اخلي.دا چې د کوچني ماشوم د لوږې اړتیا مور په خپلو خوړو شیدو سره پوره کوي نو د ماشوم هم د خپلي مور سره مینه وي او پر ګرانه وي. په نورو ټکو کښې دانسان لومړنۍ مینه د مور سره مینه ده"9

خو کله چې ماشوم په دې پوهه شي نو د هغه مینه د پلار په هکله دوه اړخیزه شي؛ لومړی خو هغه ته خپل پلار د خپلې میني په مخ کښې رقیب ښکاره کیږي او دویم هغه چې خپل پلار ته ګران وي.ددې ډبل احساس یعني ؛رقیب اوګرانښت.خو کله چې یو ماشوم په دې ستونځوو کښې ونښلي نوله ډېرو ستونځوو سره په راروان ژوند کښې مخامخ شي.کله چې د رقابت احساس راپورته شي نو د ګرانښت د احساس سره متصادم شي.دغه تصادم د انسان په ژوند کښې ستونځې رامینځته کوي.
د دې ټول بحث وروسته اوس موږ کولای شو چې د ناول مرکزي کردار د پورته بحث شوو نکتو او تحلیل نفسي په رڼا کې وڅېړو.
د ناول هیرو عبدالولي چې په کمکیتوب (ماشومتوب) کښې له داسي ستونځو سره مخامخ شي چې هغه یې د شخصیت د جوړېدو په بیلابیلو پړاوونو کښې پر شخصیت اثراندازه کیږي. هغه هیلې او خواهشات نه شي ترسره، کوم چې په دې وړومبیو وختو کښې یو ماشوم ضرورت لري. ځکه دا محرومیاني د طالب (عبدالولي) د شخصیت او رویې په جوړولو کښې ډیره لویه برخه لري.هغه ټولې د تشدد لارې چې وروسته یې بیا

دی په لاشعوري توګه اظهار کوي،هغه ټولې سرخوړلې هيلې، ناپوره شوي خواهسشات، غیراخلاقي ټولينز ګوزارونه،د مدرسې بيګانه ژوند او بيا په تيره د مور، خويندو، وروڼو او کور کلي سره بيلتون هغه لاملونه دي چې د طالب د ژوند دائره يې وټاکله. هغو ټولو انساني همدرديانو،د ښه رويې د انسانيت سره مينه او د تهذيب درس څخه يې په ماشومتوب کښې بې ونډې کړ،کومې چې په کوشنې عمر کښې د زدکړې له لارې تر لاسه کيږي.دا ټولې زدکړې د مور او د کور دنورو وګړو سره په يوځاى اوسېدو کښې زده کول کيږي.عبدالولي په کوشنيوالي کښې له دې هر څه څخه بې برخې کيږي او بيا په زياته د مور له مينې څخه.د مور مينې خو بيخي ناتوانه کړئ ؤ. لکه چې وايي:

"د عبدالولي د زړه څخه هر څه کډه کړې وه؛ د وطن مينې، د دين مينې،د زرکي مينې،د پلار او وروڼو مينې،خو د مور مينې يې له زړه څخه کډه نه کوله،څومره چې به ده په کډه کولو مجبوره وله هغومره به دې مينې په زړه کې ريښې کولې" 10

خو دلته د دې خبرې يادونه ضروري ده چې فرائيډ د شخصيت په جوړولو کښې چې کوم درې پړاونه ضروري بللې وو په هغو کښې يو د ؛دا؛ ايډ،دويم زه ؛ايګو؛ او دريم اخلاقي زه يا وجدان ؛سپرايګو؛ دي. دا ړومبۍ پړاو د دا(ايډي) يوائې پر خوشحاليو اډانه لري او له درد څخه بد وړي.داسې بيا دويم پړاو زه (ايګو) ته انرژي يا طاقت د خپلې ودې او وظيفې له پاره له دا څخه راځي. خو په دې پړاؤ کښې زور پر پوهنه او عقل کوي.

کبير ستوري ليکي:

؛هرڅومره چې زه زياته وده وکړي او ډيرکارسر ته ورسوي همدغومره د دا انرژي کميږي ځکه چې زه د دا په اوږو وده او کار کوي." 11

دریم پړاؤ یې د اخلاقي زه یا وجدان (سپرایګو) دی. په دې پړاؤ کښې اخلاقي قدرونه وده مومي او یو شخصیت له زه څخه راوځي او په اخلاقي زه کښې بدلیږي او وجدان د ړومبي پړاؤ د دا پر خواهشاتو بندیزلګوي او د زه اخلاقي اقدار خپلوي.
ترکومه ځایه چې د عبدالولي د کردار خبره ده،چې پردې کردار ډېرې سختې تیرې شوي دي. دا کیدای شي چې دا ټولې پیښې د ټولني د یو طالب د ژوند سختري نه وي خو د عبدالولي د مور سره مینه او په ماشومتوب کښې له موره بېلده هرومورو د لیکوال د لاشعورڅرګندوي دی چې د طالب په شکل کښې ځان ښکاره کړئ دی .داهغه ترون ښکاره کوي چې لیکوال په کوشنیوالي کښې د مور له بېلتانه سره مخامخ شوي دي او بیا دا خبره ځای لري چې د ناول د لیکلو په وخت د لیکوال او مور تر مینځ یا خو ابدي یا ټولینز بېلتون راغلی دی. دا په دې چې د مور د مینې انتها د دیې خبرې غمازي کوي. لکه ډاکټرسلیم اختر چې د هملټ په له هکله لیکي:

”فرائیډ دا خیال ؤ چې شکسپېر د خپل پلار د مرګه پس هملټ ولیکئ. د پلار د مرګ سره د کوشنیوالي څخه د ده په لاشعور کښې خوابیده خواهشاتو سر را پورته کړی ؤ.“ [12]

له دې حوالې څخه مې موخه دا ده چې دا په ګوته کړم چې د ناول د لیکولو په وخت به د لیکوال مور ژوندۍ نه وي او که وي نو به د بیلتون توری تمبې په مینځ کښې وي. هغه په دې چې ړومبی د دې خبرې ذکر وشو چې د یوکردار په جوړولو کښې د تیر وخت هغه ناپوره شوي ارمانونو او هیلې ډېرلوی لاس لري چې انسان یې بیا په یوه نه یوه جامه کښې اظهار کوي.د مور مینه او بېلتون هم د دې کړۍ ده.ځکه پیټر د فرائیډ یو مشهوره متل را نقل کوي:

Peter Barry quoting Freud famous saying:

There is always a return of the repressed. Slips of the tongue or pen, the forgetting of names, and similar accidents show this repressed material in the act of seeking a way back'13 .

دلته یو څو کرښې هم په دې خاطر د ناول څخه راوړو چې وروسته یې له عبدالولي څخه یو داسې شخصیت جوړ کړ چې زړسوی نه لري.زړسوی چې یې زدکړئ نه ؤ نو به یې پر بل کولو څنګه؛مینه یې لیدلې نه وه نو بې د بل د مینې به یې څه قدرکړئ ؤ.د خپل اکا د ښځې دړدېدونکی چلن، د کلي د ښځو بدې ردې او بیا په تېره د مور او خوېندو د مینې محرومې د عبدالولي په زړه کښې د مینې هغه ونه نه راوټوکوله د کومې ونې ضرورت چې هر انسان لري. ځکه خو یې له ښځو سره رویه داسې ستوخه شوه چې هډو له وجوده یې انکاري شو.دا هغه د لاشعور زاړه قبرونه وو چې ځوانیمرګ مړو یې سرونه په یوه نه یوه رنګ کښې وروسته بیا د طالب په بڼه کښې را ایستل او خپل اظهار یې کولو لکه:

" د عبدالولي په کورکښې به کله تبې باندې شوه کله به بیا هیڅ نه وو....ملااعظم اخوند به طالب ته وئیل ورسه د ملک له کوره شلومبې راوړه، دا دی مخ وخورې لکه وړې پیشي.... له مدرسې د عبدالولي څلور میاشتې پس کورته راتلل." پیلیک پړاو ته زیان

سلیم د ورور په غوږ کښې یو څه ووئیل بیا دواړو عبدالولي ته وکتل او و یې خندل.*زه ته زیان*

د کلي زیاترو ښځوبه عبدالولي ته ښنم کاوی. "و زه ته زیان"

کوشنی هلک یې تاته چا وئیلي دي چې ادیرې له راسه - - دفقر له پاره راغلئ یې، لعل محمد عبدالولي ته په ښنم ووئیل.*اخلاقي زه رټل*

دا لنګوټه دي مور ته ورکه له ځا څخه به اوبه په راکاږې، خوارکې هره ورځ زموږ له کوره سولاغه وو رسې وړې، سلیم ورته ووئیل. *و زه ته زیان*

هلکه تاخو به خپل سبق وایه، ته هم په بازۍ اخته یې، د ښې لنګوټه دي دروټړي. *اخلاقي زه ته زیان*

کوشنیان هم ټول یوې خوا ته شو عبدالولي یې یکړ پرېښود. له دې خبرې پس بیا عبدالولي کله هم د کوشنیانو په لوبو نه ورګډېدی او نه هغوی په لوبو ګډاوی. *زه او اخلاقي زه ته زیان

که لږځیرشو دې پورته کرښوته نودا په ګوته کوي چې دا ټولوستونځودعبدالولي و دا، زه اواخلاقي زه یا وجدان ته ډېر زیات زیان رسولئ دی. او زه چې به کومه انرژي له دا اخیستله، هغه کار په اساسي توګه نه دی ترسره شوی او کړلېچونه په کښې پیدا شوي دي.د طالب (عبدالولي) زه او اخلاقي زه یا وجدان هم په ځانګړې توګه وده ونه کړه او د ټولینزو ستوغو او بدوردو په رټلو یې خپله ځانګړیتا وبائیلله او یو داسي زه او وجدان وده وموندله چې د ښځوو څخه نفرت،د مکتب څخه نفرت او له عصري غوښتنو څخه نفرت باندي اډانه لرله. په داسي حال کښې به د طالب رویه او کړه وړه هم هغه وي کوم څه چې یې له ټولنې څخه د خپل شخصیت په اولنیو پړاونوکښې لکه اورل، اینل او پیلک کښې زدکړي وو.

کبیر ستوری لیکي:

> "که ځیرشونو د زه دنده ډیره سخته ده ځکه چې زه هغه وخت یو کار سم سرته رسولی شي کله چې د دا،د اخلاقي زه یا وجدان او چاپیریال غوښتني او اختلافونه یو د بل سره پخلا کولی شي."[14]

خو د طالب زه او اخلاقي زه یا وجدان د چاپېریال د غوښتنو سره ډېر توپیر لري او د شخصیت د جوړولو په دې دریو پړاونو کښې یې ډېرتندکونه خوړلي دي. د دا وده او پالنه په هغه ډول نه ده شوې په کوم رنګ چې فرائیډ په ګوته کړې ده او هم دا حال د زه او اخلاقي زه دی. ځکه خو د طالب له خولې د دې خبرې اظهار ناشوده نه ښکاري چې

کله د يوې ولسوالۍ واګې په لاس کښې واخلي او بيا د مکتب په هکله سخت دريځ خپل کړي چې د لاشعور هغه قبرونه دي چې د سليم د لاسه جوړ شوي وو.

"د سکول څه ضرورت دی، هلته لا موږ د دې خلګو څخه تنګ ؤ. پسخند به يې راباندي وهلی. چپه و راسته نومونه به يې پر راښول. تاسو ډېره ښه فېصله کړې ده.عبدالولي ووئيل.15

او بيا د ښځو او مکتبي ځوانانو په هکله اظهار داسي کوي:

دا تش زما نه، د هر طالب ستونځه ده. الله داد اخوند! دا دواړه فتنې دي، فتنې. دا چې څومره ژر ختم شي هغومره ګټه لري. دا انسانان له لاري چپه وي. تابه اورېدلي وي چې ښځه د شيطان له ذاته ده.16

د عبدالولي خپل ماشومتوب خو تش په نامه ماشومتوب تېر شوی ؤ. هغه ټولي سرخوړلي هيلي او ارمانونه چې په ماشومتوب کښې نه شوې ترسره نو د شعور له تنګ سرايه يې د لاشعور و فراخ ډګر ته کډه بوتله او هلته يې خپل شهيد مړي اماتتا ښخ کړل. خو چې کله وار په لاس ورغلی نو په لاشعوري توګه يې هغه اماتتا ښخ کړل شويو شهيدانو خپل لحدونه لڅ کړل او دخپل شهادت غچ يې اخيستل شروع کړ.دا ټول هغه زاړه قبرونه وو چې لڅ شول، مړي يې راپورته شول خو بدبختي دا ده چې دا مړو د مذهب جامه اغوستې ده.د مذهب دښمن د دوی جامه ډېره خوښوي.ځکه يې هغه هديرې ابادي ساتلي دي چېري چې دا ژوندي انسانان په مړو بدلوي.

له دې ورسته د طالب دوه اړخيزه احساس يا اوډيپس احساس، کوم چې په پبلک پړاؤ کښې وده مومي، د دې احساس په ښه توګه روزنه نه وشوه. ځکه خو په دې پړاؤ کښې د زرکي او خپلې مور پرته بل څوک نه ورياتېدل. د زرکي او مخامخ سي نو لاشعور ته کډه کوي،دا کډوال زياتره پر زه او اخلاقي زه يا وجدان باندي اډانه لري.دوی چې لاشعور ته لاړ شي نو بيا په دې تاک کښې ناست وي چې څنګه به د وتلو لار ولټوي.د

عبدالولي ځکه بيا د ښځينه ذات سره نه لګېده چې دوه اړخه احساس يې رټل شوی وو.دې شي ته فرائيډ « د خطر د حالاتو انځور وېره وايې» او ليکي:

"چې جنسي هڅه د دنني يا دباندي علتونو له کبله خنډنه او په عادي توګه روانه نه وي نو بيا جنسي انرژي ډب او جمع کيږي.دغه جنسي انرژي چې ډب شوې ده د جسماني حساسيت د زياتوالي سبب ګرځي کومه چې د وېرې نښه ده"17

خو تر کومه چې د خوب خبره ده خوب يو ارواحي عمل دی او هرکله چې خواهشات او هيلې سر وخوري نو د دې جنازې د شعور له کوره د لاشعور و ارت ګورستان ته په يو غيرشعوري عمل وړل کيږي او بيا دغه ناپوره ارمانونه او هيلې يا نورې محروميانې او هيلې بېرته د راوتولو لاړ موندي. دغه لاړ د خوب د لارې هم ترسره کيږي.ځکه چې انسان هر وخت هغه څه په خوب کښې ويني چې د هغه خواهش لري او په زړه کښې پسې ارمانجن وي.خو کله ټولينز بنديزونه هم انسان په دې اړ کړي چې خپل د دا، زه او اخلاقي زه يا وجدان غوښتني تر پښو لاندې کړي ځکه چې هغه له چاپيريال سره په تضاد کښې وي.

فرائيډ ليکي:

> "He believes that nothing you do occurs by chance; every action and thought is motivated by your unconscious at some level. In order to live in a civilized society, you have a tendency to hold back our urges and repress our impulses. However, these urges and impulses must be released in some way; they have a way of coming to the surface in disguised forms"18.

ژباړه. فرائيډ دا يقين لري چې ته هر څه کوې دا هسې نه کيږي؛ ستا د هر عمل او فکرترشاه تر يو څه حده د لاشعورلاس وي.مطلب چې په يوه پرمختللې ټولنه کښې ژوند تېرکړو تا له پکار دي چې خپل خواهشات زينديء کړې او تاتمولونه بېرته کړې. هان د

هغه خواهشات او تاتمولونه به خامخا په بل څه اړوي،ځله چې دهغه په بدرنګ شکل کښې دراپورته کېدو لاره لري.

نو د عبدالولي په خوب کښې مور، زرکه ليدل د هغو خواهشاتو اظهار دی چې په کوشنوالي کښې يې له ميني بې ونډې شوي وو.ځکه خو د غه ارمان د لاشعور په ځوانيمرګ ګورستان کښې امانتاً ښخ کړل شوي وو چي هرورځ به په خوب کښې راتلل يې. هغه لاشعوري عمل وو چې د راوتلو لار يې لټوله.

**پايله**

لنډه دا د طالب عبدالولي روزنه په هغه لار نه شوه تر سره په کومه طريقه چې د يو ماشوم روزنه په کار وه. او د دې محرومۍ سبب دا شو چې د طالب دا، زه او اخلاقي زه ته ډير تاوانونه ورسېدل. هغه څه چې د ده دپاره اړين بلل کېده، نه شوه تر سره او علت يې دا شو چې هغه ټول ناپوره شوي خواهشات د شعور څخه د لاشعور و ډګر ته وکوچېدل. هم داسې د زه او اخلاقي زه په ښه توګه روزنه نه شوه ترسره چې پايله يې دا شوه هغه کړېدلی طالب بيا د دې اظهار په خپل ژوند کښې په يوه نه يوه لار تر سره کړ، ځکه چې هغو سرخوړلو خواهشاتو به خپل سرونه راپورته کول. او دا يوه فطري خبره ده چې انسان ټول عمر په شعور کښې نه شي پاته کېدلی چې دی به ارومره د لاشعور ډګرته ځي ولي هلته د ده بنياد دی.دلته دا خبره ښکاره شوه چې د طالب د راروان وخت هر عمل د هغه د تېر وخت د تجرباتو پايله وه او هغه په دې کښې هيڅ حکمت نه لرله چې قابو يې کړي يا مخ تري واړوي. ځکه د طالب لاشعور ته تلل يوه فطري خبره وه.

**References**


1- Bano, Sheher, Psychology, she publishers, Islamabad, 2008-9, page 25.
2- Seemab, Naseebullah, Dr., Da Kara KataneeIstilahat, Pashto Academy Quetta, Kalat Press Quetta, 2013, page 61
3- Bano, Sheher, page 25
4- Akhter, Salim, Dr., Nafsiyati Tanqeed, Majlis,i-Taraqi Adab, Club Road Lahore, page 45
5- Barry, Peter, Beginning theory, An introduction to literary and cultural theory, Manchester University Press, Manchester and New York, First published 1995, page 96
6- Ibid, p 97
7- Bano, Sheher, page 358
8- Kabir, Stori, Dr., Wira, Khparawoonki, Koor, 2001, ۱۳۸۰ل ه,
9- Ibid, Kabir, Stori, Dr.
10- Seemab,Naseebullah,Dr.,Tabliba Khudai ka ba Mullah shey, Ghaznavi KhparandoyaTolana Quetta, 2014, page 2
11- Ibid, Kabir, Stori, Dr.
12- Akhter, Salim, Dr., Nafsiyati Tanqeed, Majlis,i-Taraqi Adab, Club Road Lahore, page 69